د سپوږمۍ او لمر کیسې
درېیمه کیسه

# د کوڅې د هلکانو قول





**د سپوږمۍ او لمر کيسې**

**دوهمه کیسه**

ISBN: 978---3-911-116--
9 783911 116053

د سپوږمۍ او لمر کيسې
درېيمه کيسه

# د کوڅې د هلکانو قول

نوم: د لمر او سپوږمۍ کيسې/ د کوڅې د هلکانو قول

سني ډله : ج-د

ليکوال: بهرام رحمان
ژباړه: نسرين حميدي
ايډيټر: انور وفا سمندر
انځور اخستونکی اوډيزاينر: محمد مهدي حفيظي
خپرونکی: انجمن آباد - برلين
د خپرېدو کال: ۱۴۰۲ لمريز -۲۰۲۳ ميلادي کال

ددې آثر ټول معنوي حقوق په « آباد بنسټ » پورې اړه لري د انځورونو او محتوا له تغير پرته يې په برېښنايي ډول خپرول جواز لري.
په چاپي بڼه ددې کتاب د بيا خپرېدلو له امله بايد خپروندې ته په ليکلي بڼه خبر ورکړل شي.

ISBN: 978-3-911116-05-3
admin@abad-berlin.de

«جمعې ورځې، تر ټولو ښې ورځې دي.»

لمر احمد ته وویل: «نه ښوونځی، نه کورنۍ دنده؛ تر ماښامه کولای شو فوټبال لوبه وکړو.»



احمد په هیجان غږ کړل: د ورځې هم فوټبال، د شپې هم فوټبال.» او زیاته یې کړه: «راځه نن مسابقه وکړو، و ګورو، چې څوک ډیر ګولونه وهي؟ زه نورو هلکانو ته هم ور غږ کوم.»



لمر له کوره یو لرګین سندوک او یو زوړ توپ راوړل. هغه سندوک د ګول دروازې نښانې په توګه کښېښود او توپ يې د احمد په لور ګوزار کړ. لمر ټوله تیره اونۍ تمرین کړی و. اوس يې غوښتل، چې تر احمده ښه لوبه وکړي.



ژر نور هلکان هم لوبې لپاره راټول شول. د دوی له شوره ډک غبر، ټوله کوڅه په سر اخستې وه.
ګاونډیانو د کورونو له کړکیو سرونه راوېستلي ول، چې ووینې څه پېښه ده!



« ګول»، «ګووول!»

لمر چیغه کړه. دا لومړی ځل و، چې لمر د احمد مقابل کې ګول واهه. لمر موسک شو او احمد ته یې وویل: «په  بل دور کې درته ښه چانس غواړم!»



احمد وویل: «فوټبال بس دی؛ راځه یوه بله لوبه وکړو.»

لمر وویل: «اوس نو نه کیږي، چې لوبه دې ځای کې پریږدې.» لمر زیاته کړه: «ته همېشه چې باېللو ته نېږدې کېږې، لوبه پرېږدې؛ تر اوسه خو لوبه نیمايي ته نده رسېدلې!» دې سره نورو هلکانو هم د لمر خبره تایید کړه.



«هغې ته وګوره!»

احمد، هغې نجلۍ ته اشاره وکړه، چې د کوڅې څنګ کې یې د دوی د فوټبال لوبې لیدلو ته ولاړه وه. او په ملنډو یې وویل: «هغه وینې؛ عجیبه جامې یې لا وګوره!»

احمد هڅه کوله، د نورو هلکانو او ټولو پام، هغې وړې نجلۍ ته ور واړوي، چې ګوندې دا یې هیر شي، چې نن یې ښه لوبه نلرله!



یوه هلک له نجلۍ وپوښتل:«څه نومیږې؟»
احمد په لوړ آواز وویل: «خبرې ئې نه دي زده.» او ټولو وخندل.



لمر پوهیده، چې په کوڅو یا هر ځای کې د نجلۍ یا هلک ځورول، ښه کار نه دی؛ خو په دې ورځ یې څه ونه ویل. نه یې غوښتل، چې د احمد یا نورو هلکانو خلاف څه ووایي.

نجلۍ سر ښکته واچاوه او په اوښلنو سترګو یې کتابونه غېږې پورې ټینګ نیولي، په چټکۍ ولاړه.



څو شیبې وروسته، نور هلکان ورو ورو، خپلو کورونو ته ولاړل. «اصلي لوبه، په بله جمعه ده!» لمر دا ووېل او زیاته یې کړه: «دا لوبه، نه حسابیږي!»



کله چې ماښام لمر خپل کور ته راستون شو؛ نو پام یې شو، چې سپوږمۍ خور یې غلې ناسته ده او غم یې پر څېرې سیوری غوړولی!
لمر ترې وپوښتل: «خیریت خو به وي؛ هرڅه ښه دي؟»



سپوږمۍ ځواب ورکړ: «نه! ښه نه دي!!

سپوږمۍ، ناکراره معلومېده، هغې ووېل: «څو شيبې مخکې زهرا راغلې وه. هغه سخته وږېدلې وه! د کوڅې هلکانو ځورولې وه...نه پوهېږم هلکان ولې داسې کوي؟»

ملر وپوښتل: «زهرا څوک ده؟»

سپوږمۍ ځواب ورکړ: «زهرا د زرمينې د ترورۍ لور ده. څو ورځې کېږي، چې د موږ کوڅې ته يې کډه را کړې. زه د رياضۍ په درسونو کې مرسته ور سره کوم.»



لمر وپوهېد، چې زهرا هماغه نجلۍ ده، چې د دوی د فوټبال لوبې سېل ته ولاړه وه او هلکانو ملنډې پرې ووهلې. هغه ځانه سره وویل: «څومره بد کار!» او دې سره یې سترګې ښکته واچولې. هغه نه غوښتل سپوږمۍ پوه شي، چې هغه هلکان، ددوی کوڅه‌وال او د لمر ملګري دي.



سپوږمۍ وویل: «د هېچا نه خوښېږي، چې نور یې مسخره کړي او ورباندې وخاندي.» سپوږمۍ له اسویلي سره ووېل: «د نجونو لپاره په دې ښار کې هیڅ ځای امن دی.»

لمر له ډېره شرمه، هېڅ ونه وېل.



د اونۍ ورځې په چټکۍ تیریدلې. په دې شپه، چې سبا یې جمعه وه، لمر په دې فکر کاوه، چې که بیا هلکانو زهرا ته بدې خبرې وکړې؛ نو دی به څه کوي؟ آیا هغه کولای شي، د احمد او نورو هلکانو د ناوړو خبرو مخه ونیسي؟
هغه نه غوښتل، چې زهرا دې بیا د ملنډو شي. خو هغه دې اندیښنې وړ و، داسې نه چې ملګري د هغه خبرې ونه منی او پر هغې وخاندي!





د جمعې ورځ راورسیده. د سیمې هلکان کوڅه کې راټول شول. لمر له کړکۍ کتل، چې احمد به ژېړ، تور او سره رنګ نوي توپ سره، ولاړ دی او هلکان په دوو ټیمونو ویشي.



پیل کې لمر زړه‌نازړه و، چې له کور ووځي، لوبه کې ګډون وکړي که نه؟ هغه ځان سره وویل: «خو خپله تېروتنه باید تکرار نه‌کړم!» او بیا روان شو.

کله چې لمر له کوره بهر شو؛ نو احمد ور غږ وکړ : «دا ځل ته زما په ټیم کې یې!»



لمر، په خپل ټول جرآت سره ووېل: «مورې به اول د هغه څه باره کې، چې تېره اونۍ وشول، وغږېږو!»
هلکان چوپ ودرېدل.
لمر وویل: «د نجونو ځورول او تنګول، ناوړه کار دی. نجونې اوس وخت کې، چې ښوونځي، پوهنتونونه، سینګارځایونه، او ورزشي کلپونه یې پرمخ تږل شوي، ډېرې ستونزې لري. مورږ باید ژوند ورباندې نور هم سخت نه کړو!»



«ربښتیا وایې!»

دا د یوه بل هلک غږ و، چې ورپسې یې زیاته کړه: «په نورو ملنډې وهل، زما هم نه خوښېږي. فکر وکړئ، که بل څوک ستاسې د کورنۍ له یوې غړې سره داسې چلند وکړي، څومره به درته سخته تمامه شي!»

احمد غلی ولاړ و. شیبه وروسته یې وویل: «د ما هم ټوله اونۍ خوا بده وه. پوهېږم، چې ولې مې پر هغې نجلۍ مسخرې وکړې؛ ځکه چې ما فوټبال بایللی و. او غوښتل مې پام مو بله خوا شي. په ربښتیا، چې بد کار مې کړی و!»

لمر وویل: «راځه قول وکړو، چې بیا به څوک نه ځوروو.»

احمد تکرار کړه: «قول دی.»

